ملي پراختیا انکشاف ملی
نشریه شرکت انکشاف ملی
ملي پراختیا شرکت په هېواد کې هغه یوازینی دولتي شرکت دی، چې د لویو او سترو زېربنایي او ملي پروژو د پلي کولو وړتیا لري!
سه شنبه | ٦ سرطان ۱۴۰۲ | ۹ ذوالحجه ۱۴۴۴ | 27 June 2023 | دور دوم شماره سوم
برای دریافت این نسخه و آخرین گزارشات اینجا سربزنید www.ndc.gov.af

## د نیکمرغه لوی اختر د رارسېدو په پار د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس د مبارکۍ پیغام!



عبدالرحمن عطاش
د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس

د نیکمرغه لوی اختر د رارسېدو له امله د ا.ا.ا مشرتابه، مجاهدینو، افغان وياړلي ملت او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته د زړه له کومې مبارکي وایم، الله تعالی دې د ټولو قرباني او عبادتونه په خپل دربار کې قبول او منظور وګرځوي.

د ملي پراختیا شرکت رهبري او کارکوونکي ټول د یو سوکاله او له بې وزلۍ څخه په پاک افغانستان باور لري او دا بې د ملي پراختیا شرکت لرلید ټاکلی دی او همدارنګه هڅه کوو، ترڅو په لاس کې له شته سرچینو څخه د هېواد د پرمختګ او اقتصادي ودې لپاره اړینه ګټه واخلو.

موږ باور لرو، چې له خصوصي سکتور سره به نږدې همکارۍ کولی شو خپلې اوږد مهاله هیلې او ارمانونه پوره، هېواد د سوکالۍ او هوساینې لوړو پوړیو پر لور سوق او په نړۍ کې خپل موقف او ځای ټینګ کړو.

ملي پراختیا شرکت د ا.ا.ا بریا د هېواد زېربناوو د آبادۍ او بیا رغونې لپاره یو غوره فرصت ګڼي او د اقتصادي ستونزو سره سره بې په جدیت، رېښتینولی او پوره ژمنتیا د سترو او ملي پروژو د تطبیق په برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي، تر څو موږ وتوانېږو په افغانستان کې پرمختګ په بالقوه او بالفعل پتانسیل بدل کړو.

په پای کې د افغانستان غیور ملت او د ا.ا.ا مشرتابه ته ډاډ ورکوم، چې د ملي پراختیا شرکت په چوکاټ کې د دې خاورې رېښتیني بچیان به د هېواد د تولیدي برخو او زېربناوو په پرمختګ کې تر پخوا څو برابره ډېرې هڅې کوي.

د یو سوکاله او له بې وزلۍ څخه د پاک افغانستان په هیله!

عید قربان مبارک
اختر مو مبارک شه!

## اعمار ساختمان دفتر مرکزی شرکت انکشاف ملی

**اعمار ساختمان دفتر مرکزی شرکت انکشاف ملی ۵۰ فیصد پیشرفت کاری داشته است**

**به گفته مسئولان این پروژه کار ساخت وساز این تعمیر به شدت جریان دارد و تا حال کار آن ۵۰ فیصد پیش رفته است.**

**این تعمیر در ۷ منزل اعمار می گردد که با معیار های مدرن روز توسط انجنیران شرکت انکشاف ملی تطبیق و نظارت میگردد.**

**هزینه این ساختمان از عواید شرکت انکشاف ملی پرداخته می شود.**



## نظریات مردم
در شبکه های اجتماعی



حمید ستانکزی
کشور آلمان

خداوند بزرگ را شکر گزار استیم که این پروژه بزرگ در کشورما تطبیق می شود، جای بسیار افتخار است که کارگران و انجنیران فنی در کانال قوش تیپه شب و روز زحمت می کشند تا نسل های آینده ما ازاین پروژه ملی بهره مند شوند.

نوت
نظریات خود را در مورد شرکت انکشاف ملی همراه با نام، عکس و محل سکونت خود در شماره واتس آپ ذیل و یا ایمیل آدرس ما ارسال کنید!

# کار اعمار مارکیت ذغال سنگ در ولایت میدان وردگ آغاز شد!



کار اعمار یک مارکیت بزرگ ذغال سنگ توسط مسؤلین شرکت انکشاف ملی، با حضورداشت مقامات محلی ولایت میدان وردگ، علمای دین و باشندگان محل در منطقه ی کوته عشرو میدان شهر رسماً آغاز گردید.

مولوی عبدالولی عادل معاون مالی و اداری شرکت انکشاف ملی گفت: ا.ا.ا به آبادی و رشد اقتصادی کشور متعهد است و در این عرصه دست آورد های چشم گیری داشته. وی اضافه نمود، شرکت انکشاف ملی متعهد به استخراج معیاری معادن کشور است و همچنان بخاطر تطبیق هر چه بهتر این پروژه از مردم میدان وردک خواستار همکاری شد.

همچنان ریاض الدین شریفی معاون انسجام تولید و تجارت شرکت انکشاف ملی میگوید: که شرکت انکشاف ملی بخاطر حوزه ی معدنی ذغالدار بلخاب نخستین مارکیت را با معیارها و استندردهای بین المللی اعمار می کند، که از این مارکیت ذغال سنگ به داخل و خارج از کشور انتقال داده می شود.

با این حال قاری بختیار معاذ والی میدان وردک ضمن تبریکی این پروژه بزرگ به مردم افزود: در این پروژه و مارکیت نه تنها به مردم ولایت میدان وردک بلکه به سطح کشور به مردم زمینه کار و اشتغال فراهم می شود و همچنان از طرف خود اطمینان هر نوع همکاری را با شرکت انکشاف ملی داد.

حاجی ریشتین به نمایندگی از مردم محل صحبت کرده و ازاین پروژه ابراز خرسندی نمود و همچنان از طرف مرم میدان وردک در تطبیق این پروژه وعده هر نوع همکاری داد.

قابل ذکر است که، به اساس فیصله کابینه ا.ا.ا حوزه معدنی ذغالدار ولسوالی بلخاب ولایت سرپل به شرکت انکشاف ملی سپرده شده، تا از عواید بدست آمده‌ی آن پروژه های بزرگ ملی بالخصوص پروژه کانال قوش تیپه تطبیق شود.



# د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې به ژر بشپړې شي





د ملي پراختیا شرکت له لوري د هېواد په شمال کې د قوش تېپې د ستر او ملي کانال د لومړي فاز چارې په خورا چټکۍ سره روانې دي او ژر به بشپړې شي.

په بلخ ولایت کې د ملي پراختیا شرکت مسؤلین وایي، د قوش تېپې د ستر او ملي کانال چارې د لومړي فاز چارې ۸۰ سلنه پرمخ تللې دي او پاتې چارې یې هم د زرګونو ماشینرۍ او زرګونو کسانو له لوري هم په چټکۍ سره روانې دي او ژر به بشپړې شي.

همدارنګه مسؤلینو زیاته کړه، تر دامهاله ۱۱۱ میلیونه متره مکعبه کیندنه شوې، چې د کانال د کیندنې ترڅنګ د سربند، د مزارشریف-حیرتانو ترمنځ سړک او د مزارشریف-حیرتانو ترمنځ د رېل پټلۍ د پلونو په جوړولو هم په چټکۍ کار روان دی.

د یادولو وړ دی، د قوش تېپې کانال لومړی فاز د بلخ ولایت له کلدار ولسوالۍ څخه پیل او تر دولت آباد ولسوالۍ پورې رسېږي، چې په ټوله کې ۱۰۸ کیلومتره اوږدوالی لري.

## د جبل السراج سمنټو فابریکه کې رغنیزې چارې په چټکۍ سره روانې دي

د ملي پراختیا شرکت د جبل السراج سمنټو فابریکې ریاست له لوري په دې فابریکه کې رغنیزې او د بڼ جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي.

د جبل السراج سمنټو فابریکې مسؤلین وایي، له څه مودې راهیسې مو د دې فابریکې د سمنټو د تولید د ډېروالي او کیفیت ترڅنګ د فابریکې د ځینو برخو د رغونې او د دې فابریکې شاوخوا ځمکو باندې د یو بڼ جوړولو چارې پیل کړې او په چټکۍ سره روانې دي.

د یادولو وړ دی، چې د جبل السراج د سمنټو فابریکه په پروان ولایت کې موقعیت لري او اوس مهال په ۲۴ ساعتونو کې له ۷۰ څخه تر ۹۰ ټنو پورې سمنټ تولید کوي.



